**مطبوعاتي اعلامیه**

## سل کاله وشول چې خلافت مو له لاسه ورکړی؛ څو مو چې بیا نه وي تاسیس کړی، هیڅ بدلون به رانشي!

په دې کې هیڅ شک نشته چې له سلو کالو، یعنې د ۱۳۴۲هـ.ق کال د رجب له ۲۸مې (۱۹۲۴م د مارچ ۳مې) راهیسې چې د اسلام حاکمیت، خلافت پرځول شوی، موږ ورک یو. له هغه وخت راهیسې د کڼو حکامو غوږونو ته د مظلومو مسلمانانو چغې ورځې چې خاورې مو اشغال دي، د لښکرو مخه مو مه ترړئ. د خوندي ځای موندلو لپاره له خپلو خاورو تښتو، یو بل تر پښو لاندې کوو او ان د ډوبېدو خطر پر غاړه اخلو. سره له دې چې امت ملیونونه لښواله او وړ ځواکونه لري؛ خو پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته په وار وار سپکاوی وشو. الله سبحانه و تعالی پر اسلامي خاورو پرېمانه شتمني لورولې خو بیا هم موږ په سخته لوږه کې یو. ښېشکه چې له خلافت پرته ورک یو او که له اسلام پرته په بله هره لار کې، که ډیموکراسي وي که دیکتاتوري، هر څومره هڅه وکړو، هیڅ لار نه شو موندلی.

**اې د پاکستان مسلمانانو!**

ومو نه لیدل چې د ډیموکراسۍ له لارې د اوسنیو حکامو د ټاکلو پر وخت مو څومره هیلې لرلې خو څنګه یې نهیلي کړئ؟ ایا دا نه ده راته روښانه شوې چې په پاکستان کې تر ډیموکراسۍ لاندې هیڅ وخت بدلون نه راځي؛ نه په تېرې اووه اویا کلونو کې راغئ او نه به په راتلونکو اووه اویا کلونو کې راشي؟ ایا دا نه ده واضح شوې چې د ډیموکراسۍ له لارې نه په پاکستان کې او نه په بله اسلامي خاوره کې هېڅکله بدلون شونی نه دی؟ اې مسلمانانو، دا تر اوسه نه ده درته روښانه شوې!؟

د مسلمانانو خلیفه نه ډیموکراټ دی او نه دیکتاتور. هغه نه د خپل شخصي نظر پر اساس حکومت کوي او نه د کوم مجلس. بلکې یوازې د قران او سنتو له مخې حکم کوي او پخپله هم د الله سبحانه و تعالی قانون ته تابع دی. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**«فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ»** [نساء: ۵۹]

**ژباړه:** که چېرې ستاسو ترمنځ په کومه چاره کې شخړه رامنځته شي، نو د حل کولو لپاره یې الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم ته مراجعه وکړئ، که چېرې تاسو په ریښتیا سره پر الله سبحانه وتعالی او د قیامت په ورځ ایمان لرئ.

خلیفه د هغه څه له مخې حقونه ورکوي او اخلي چې یوازې الله سبحانه و تعالی راضي کوي. ځکه خو د مسلمانانو لومړي خلیفه، ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه وویل: **وَالضّعِيفُ فِيكُمْ قَوِيّ عِنْدِي حَتّى أُرِيحَ عَلَيْهِ حَقّهُ إِنْ شَاءَ اللهُ, وَالقَوِيّ فِيكُمْ ضَعِيفٌ عِنْدِي حَتّى آخُذَ الحَقّ مِنْهُ إِنْ شَاءَ اللهُ. ستاسو تر ټولو کمزوری زما پر وړاندې تر ټولو قوي دی تر هغه چې حق یې بېرته ورکړم، ان شاء الله؛ او ستاسو تر ټولو قوي زما پر وړاندې تر ټولو کمزوری دی، تر هغه چې حق ترې واخلم، ان شاء الله.**

دغه راز د مسلمانانو دویم خلیفه، امیر المومنین عمر فاروق رضی الله تعالی عنه وویل: **إِنّ امْرَأَةً خَاصَمَتْ عُمَرَ فَخَصَمَتْهُ. بېشکه چې یوې ښځې له عمر سره مخالفت وکړ او هغه په خپل مخالفت کې په حقه وه.** دا مخالفت پر دې و چې حضرت عمر رضی الله تعالی عنه وویل: **لَا تُغَالُوا فِي مُهُورِ النِّسَاءِ. ښځو ته یې په مهر ورکولو کې افراط مه کوئ.** خو یوې ښځې ورته وویل: **لَيْسَ ذَلِكَ لَكَ يَا عُمَرُ إِنّ اللَّهَ يَقُولُ. داسې نه ده اې عمره، ځکه چې الله (سبحانه و تعالی) فرمايي: وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنّ قِنطَاراً.** [نساء: ۲۰] **یعنې که مو دوی ته د مهریې په توګه هرڅومره ډېر مال ورکړی وي، بیرته یې ترې مه اخلئ.**

د خلافت په دور کې د ځمکې او اسمانونو اوسېدونکي د اسلام د عظمت شاهدان وو. دا د اسلام حاکمیت و چې لښکر-لښکر خلک اسلام ته راتلل؛ که به د اندونیزیا وو، که د مرکزي یا ختیځې اسیا یا بوسنیا یا مراکش او غرب. دا د الله سبحانه و تعالی د کتاب او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د سنتو حاکمیت و چې خلافت یې هغو کسانو ته د پناه اخیستو په ځای بدل کړی و چې د نورو لخوا تر ظلم او ځور لاندې وو؛ لکه یهود به چې د اروپایانو له ظلم څخه راتښتېدل. دا د خلافت زور و چې هغه کسان یې د جګړې په یوه ګواښ چپ کړل چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته یې د سپکاوي نیت درلود. یوازې خلافت دی چې د الله سبحانه و تعالی د امر له مخې د مستضعفانو چغو ته د ځواب ویلو لپاره لښکر بسیج کوي؛ اشغال شوې خاورې ازادې او نوې خاورې فتح کوي. د الله سبحانه و تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت دی چې خلافت اړ باسي چې د ببوزلو او پوروړو غم وخوري او دغه راز وړیا او په تر ټولو لوړه کچه ښوونه، روزنه او روغتیایي خدمتونه وړاندې کړي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!**

احمد په خپل مسند کې روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»**

**ژباړه:** بیا به ملک جبریه (د دیکتاتور نظامونو حاکمیت) وي او دا به تر هغه وي چې د الله اراده وي او کله چې د الله خوښه شي، دا به هم پورته کړي. بیا به بېرته د نبوت په منهج خلافت حاکم شي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وینا الهي وحې ده؛ دا یوازې د نبوت پر منهج خلافت د بیا راتگ زېری نه راکوي؛ بلکې دغه مبارک حدیث زموږ لپاره یو خبر دی چې عمل پرې وکړو؛ ځکه چې پر موږ واجب ده چې پر ما انزل الله حکم وکړو. اې مسلمانانو، د خلافت د راپرځېدو سل کاله وشول، راشئ له حزب التحریر سره یې د بیا تاسیسولو لپاره کار وکړئ!

**د حزب التحریر مطبوعاتي دفتر**
**ولایه پاکستان**

۱۴۴۵هـ.ق، د شعبان ۲۲مه

۲۰۲۴م، د مارچ ۳مه

د صدور گڼه: ۳۴/۱۴۴۵